مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۶/۰۲

# ماښام پر بنو سره بخري

پـراته مـاښـام پـر بنـو سره بـخـري
د ارمـانــونــو ســهـــارونـــه ســـوي

د ولس غورځونو کي پلتـي ایښي دي
لـــه نــوي نــســـل بـاورونـــه تـــلـــلـــي

نړی روانـه مـخ پر وړانـدې درومي
زمـوږ پـر خـاوره وحشتـونـه ځغلي

د مور په لاس کي سپین څراغ د علم
تیـوسان ور وړي د تیارو تـور سوي

چي پلرنـۍ ځمکه کي ومـنجیري -۱
پردو چوپړ کي پر هوا سپک خلي -۲

ښـوونـې لار تـورو تـیـارو نیولي
لمر لـه ځلا نـه لــري دي وګـړي

ازادی ګـام پـورتـه کـولـو پـه پـار
غـرونه راغـونه انتظار کي ستړي

د هسک له زړه به رانه ستوري اخلي
میندي په یو غږ سره تول کړي ژني

ځواک یي بیا ځمکه اسمان ولړځوي
پیغلي زلمي به ستر بدلون را سیري

د اوښتـون او د پـاڅـون پـر خـاوره
بدلون ناري ته ژر ځوانان راځغلي

---

۱ - وغوړیږي، و پالل شي
۲- وچ نری ډکی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ